

رساله نمبر: 117

# دقِيامت اِمتحان


شَیخِ طَرِیقَت، اَمِیرِ اَهلِسُنّت، بانئِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

**مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

پښتو ترجمه:
مجلِسِ تراجِم
(دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د كتاب لوستلو دُعا

ديني كتاب يا اسلامى سبق لوستلو نه مخكښ دا لاندي دُعا لولئ إِنْ شَآءَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتي كيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

ترجمه: اے الله جَلَّ جَلالُہٗ په مونږه د عِلم او د حِكمت دروازې برسيره [يعني بيرته] كړې او په مونږه خپل رحمت رانازل كړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج۱ ص۴۰ دار الفكر بيروت)

(اول او آخر كښ يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالب غم مدینہ بقیع ومغفرت

د رسالي نوم: د قِيامت اِمتحان

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه عالمي مدني مركز فيضانِ مدينه، بابُ الْمَدينه كراچۍ.

## مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ كولو اجازت نشته

## كتاب اخستونكي توجّه اوكړئ

كه د كتاب په طباعت كښ څه ښكاره خامي وي يا پاڼړې كمې وي يا په بائنډِنګ كښ مخكښ وروسته لګيدلي وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوكړئ.

www.dawateislami.net

# دقِیامت اِمتحان

د شیخِ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علاّمه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادرِي، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د بیان دا رِساله "قِیامت کا امتحان" په اردو ژبه کښې لیکلي شوي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب دَ ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمې، زیاتي اوموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش:

## مجلسِ تراجِمِ دعوتِ اِسلامي


برائے رابطه:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینه محله سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینه کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

# فهرست


## د قِيامت اِمتحان ................................. 1

د دُرود شريف فضيلت ............................................. 1
د مَدَني ماشوم يَره.................................................. 1
د وَلِـيُّ الله ميلمستيا .............................................. 3
د قيامت پينځه تپوسونه.............................................. 5
امتحان راغي .................................................. 6
د مسلمانانو خلاف سازشونه ........................................ 7
يو لاك روپئ اِنعام ................................................. 7
د پلار جنازه.......................................................... 9
د كور نه بهر اِيصالِ ثواب خو دننه....؟ ........................... 10
د دِين نه لرې كولې شي ........................................ 10
مسلمان ئې مسلمان چرې پرينبې دې؟ ............................ 11
د شيطان سازش ............................................... 13
د ګناهونو آلات ................................................... 14
تې وې كله اِيجاد شو؟.............................................. 15
جهنّم ته د غورزيدو دباؤ اچول........................................ 16
جاهِل پروفيسر...................................................... 18
د نفس او شيطان خِلاف جِهاد........................................ 19
ګِيره خرئيل حرام دې ............................................. 20
د ځنكدن زړه درزوونكې تصوّر!.................................... 20
په مړي پسې د نوحه كولو عذاب ................................. 22
جنازې له د اُوكې وركولو طريقه..................................... 22


www.dawateislami.net

جنازې له د اُوګې ورکولو فضائِل ........................................ 23
د قبر د رڼړا احساس پاتې نه شو ........................................ 24
شِفا په بيعه نه اخسته شي ........................................ 25
مالدارئ او بيمارئ ........................................ 26
د قبر سوال او جواب ........................................ 27
د قبر په جوابونو کښې د ناکامئ اسباب ........................................ 31
دا مه وائې چه ځوك پوهه کولو والا نه وو ........................................ 33
مونږه ورځ په ورځ وړوکِــي کيږو ........................................ 34
د دُنياوي امتحان اَهَمِّيَّت ........................................ 36
د ګاونډي ۱۵ مَدَني ګلونه ........................................ 39

www.dawateislami.net

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د قِيامت اِمتحان[1]

شيطان كه هر څومره ناراستي درولي خو دا بيان پوره اولولئ اِنۡ شَآءَالله تعالیٰ تاسو به په خپل زړه كښې مَدَني انقلاب جوړيدل محسوس كړئ.

## د دُرود شريف فضيلت

د شَفِيعُ الۡمُذۡنِبِيۡن رَحۡمَةٌ لِّلۡعٰلَمِيۡن صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دي: "چا چه سحر او ماښام په ما لس لس ځله درود شريف اولوستو د قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب كيږي."

(مَجۡمَعُ الزَّوَائِد ج١٠ ص١٦٣ حديث ١٧٠٢٢)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مَدَني ماشوم يَره

نيمه شپه يو وړوكي ماشوم ناڅاپه راپاڅيدو او په چغو چغو په ژړا شو. والِد صاحب ئې په وار خطائې كښې رابيدار شو او تپوس ئې

---

[1] دا بيان امير اَهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د باب المَدينه كراچي په علاقه پير كالونئ كښې د سُنَّتو نه ډكه اجتماع كښې (اندازاً په جمادی الاولی ١٤٢٢ھ/ ٢٦.٧.٢٠٠١ كښې) فرمائيلي وو. د ترميم او اضافې سره ليكلې شوې حاضرِ خدمت دې. مجلس مَكۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه

www.dawateislami.net

ترې اوکړو چه: اے زما ګرانه بچيه! ولې ژاړې؟ څه اوشو؟ ماشوم په ژړا ژړا کښې اووئيل چه بابا جانه! صبا د زيارت ورځ ده، ځکه به را نه اُستاذ صاحب د پوره هفتې د سبقونو امتحان اخلي، ما سبق ته توجُّه نه وه ورکړې نو زه به صبا وهل خورم.'' دا ئې اووئيل او ماشوم بيا په ژړا شو. په دې خبره ئې د والِد صاحب په سترګو کښې اوښکې راغلې او خپل نفس ته ئې اووئيل چه: دې ماشوم ته صرف د يوې هفتې حساب ورکول ور په غاړه دي او اُستاذ له بنده دوکه هُم ورکولې شي او د دې باوجود دا ژاړي او د يَرې د لاسه خوب نه ورځي او آه! آه! آه! ما ته د ټول ژوند حساب د هٰغه واحِدِ قَهَّار جَلَّ جَلَالُہٗ په بارګاه کښې ورکول را په غاړه دي چا له چه څوك دوکه هُم نه شي ورکولې، آه! ما ته د قيامت امتحان را په غاړه دې خو زه د غفلت په خوب اُوده پروت يم، آخر زه يَريږم ولې نه!. (دُرَّةُ النَّاصِحِين ص۲۹۵ بتغيُّر)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په دې حِکايت کښې زمونږ د پاره د عِبرت بيشميره **مَدَنِي ګلونه** دي، تاسو هُم سوچ اوکړئ او زه هُم سوچ کووم. يو ماشوم او د هغه سوچ او د هغه د پلار مَدَنِي سوچ ته اوګورئ! ماشوم د مدرسې د ''حساب'' په وجه ژاړي او پلار ئې د قيامت د حساب د سختئ يادولو په وجه ژاړي.

کریم اپنے کرم کا صدقہ لئیمِ بےقدر کو نہ شرما
تو اور گدا سے حساب لینا گدا بھی کوئی حساب میں ہے

(دا د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه مقطع ده، دواړه ځائ د رضا په ځائ سګِ مدينه عُفِيَ عَنه د خپل ځان په نِيَّت "ګدا" کړلو)

اے کريمه! په خاطر ستا د کرم اُوساته د شرميدو نه ما بې قدره
ته او د ګدا نه حساب اخستل، ګدا هُم په څه حساب کښې دي

## د وَلِـيُّ الله ميلمستيا

**حضرتِ** سَيِّدُنا حاتِمِ اصَمّ رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه ته يو مالدار کس په ډيره زارئ د طعام دعوت ورکړو: هغوئي اوفرمائيل: زما دا درې شرطونه اومنه نو در به شم، (۱) زه چه چرې غواړم کښينم به (۲) څه چه غواړم خورم به (۳) څه چه وايم هغه به کوئ. هغه مالدار کس دا درې واړه شرطونه منظور کړل. د وَلِـيُّ الله د ديدار کولو د پاره ډير خلق راجمع شو. په مقرر وخت باندې **حضرتِ** سَيِّدُنا حاتِمِ اصَمّ رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه هُم تشريف راوړلو او کوم ځائ کښې چه د خلقو پيزار پراته وو هلته کښيناستلو. چه کله طعام شروع شو نو سَيِّدُنا حاتِمِ اصَمّ رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه خپلې خولئ ته لاس کړو او **وَچه ډوډئ** ئې را اووِيستله او اوئې خوړله. چه کله د طعام سلسله ختمه شوه نو کوربه ته ئې اوفرمائيل چه: "**تَبَخي** راوړه او هغه په نَغَري کيږده" د حُکم

تعمِيل اوکړې شو، چه کله **تَبَخې** سره سکَروَټه شو نو هغوئي رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه ښېپې اَبلې ښېپې په هغې د پاسه اودريدلو او اوئې فرمائيل: ”**ما د نن په طعام کښې وَچه ډوډۍ خوړلې ده**“. دا ئې اوفرمائيل او د **تَبَخې** نه راکوز شولو او حاضرو خلقو ته ئې اوفرمائيل: اوس تاسو هُم وار په وار په دې **تَبَخې** اودريږئ او څه مو چه اوس اوخوړل د هغې حساب راکړئ. خلقو چه دا واوريدل نو د خُلو نه ئې چغې اوختلې او ټولو اوونيل: يا سيِّدى! مونږ د دې طاقت نه لرو، (چرې دا ګرم ګرم تبخې او چرې زمونږه دا نرمې نرمې ښېپې! مونږه خو ګنهګار او دُنيادار خلق يو) هغوئي رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه اوفرمائيل: چه په دې دُنياوي ګرم **تَبَخې** د پاسه نن صرف د يو وخت د طعام د نعمت حساب نه شئ ورکولې نو صبا په ورځ د قيامت به تاسو د ټول ژوند د نعمتونو حساب څنګه ورکوئ! بيا هغوئي رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه د ديرشمې سيپارې د سُورةُالتَّكَاثُر د آخري آيت تِلاوت اوکړو:

ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ النَّعِيۡمِ ﴿۸﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بيا بيشکه په هغه ورځ به تاسو نه د نعمتونو تپوس کيږي.

دا زړه نرموونکې ارشاد ئې چه واوريدو نو خلق په چغو چغو په ژړا شو او د ګناهونو نه ئې توبه توبه کول شروع کړل.

(مُلَخَّص از تذکِرَةُ الْاَوۡلِياء، اَلجُزۡءُ الۡاَوَّل ص ۲۲۲)

www.dawateislami.net

**د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ جَلَالُہٗ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بي حِسابه بخښنه اوشي.**

صدقہ پیارے کی حیاء کا کہ نہ لے مجھ سے حساب
بخش بے پوچھے لجائے کو لجانا کیا ہے (حدائق بخشش)

په خاطر د خوږ نبي زما نه مه اخله حساب
بې تپوسه مې بخشش کړې، رُسوا نه کړې نور رُسوا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قيامت پينځه تپوسونه

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** که مونږه ژاړو او که خاندو، که رابيدار شو او که د غفلت په خوب اُوده پراته اوسو خو **د قيامت امتحان** حق دې. په "تِرمِذی شريف" کښې د دې امتِحان په باره کښې فرمائيلي شوي دي چه: انسان به د هٔغه وخته پورې د قيامت په ورځ قدم لرې نه کړې شي تر څو چه د دې پينځو سوالونو جوابونه ورنکړي ﴿۱﴾ تا ژوند څنګه تير کړو؟ ﴿۲﴾ ځواني دِ څنګه تيره کړه؟ ﴿۳﴾ مال دِ کوم ځائ نه اوګټلو؟ او ﴿٤﴾ کوم کوم ځائ کښې دِ اولګوو؟ ﴿٥﴾ د خپل عِلم مطابق دِ د کومه پورې عمل اوکړو؟ (تِرمِذی، ج٤ ص١٨٨ حديث ٢٤٢٤)

www.dawateislami.net

# امتحان راغي

**نن** چه په دُنيا كښې د كوم يو طالبِ عِلم امتحان نزدې راشي نو د ډېرو ورځو مخكښې نه فكرمند شي او بس هر وخت صرف په دې فكرونو كښې وي چه ”امتحان راغې“ هغه د شپې ويښې اوسي او د امتحان د تيارۍ او د اَهَمو سوالونو [يادولو] ډېر زيات كوشش كوي په دې خيال چه شايد دا سوال راشي، شايد چه دا سوال راشي. هر اِمكاني سوال حل كوي حالانكه د دُنيا امتحان ډېر آسان دې، په دې كښې دوكه هُم كيدې شي، رشوت هُم پكښې چليدې شي، او د دې حاصل صرف دا دې چه كاميابيدو والا ته د يو كال ترقي وركړې شي او څوك چه فيل شي هغه په جيل كښې نه اچوي، صرف دومره اوشي چه د يو كال د ترقۍ نه محرومه پاتې شي. اوګورۍ! چه د دې دُنياوي امتحان د تيارۍ د پاره انسان څومره كوشش كوي، تر دې چه د خوب تښتولو والا ګولۍ هُم اوخوري او ټوله شپه وِيښې ناست وي او د امتحان تياري كوي خو افسوس! د قيامت د هغه امتحان د پاره د نن صبا د مسلمان كوشش د نه كيدو برابر دې چه د هغې نتيجه د پاس كيدو په صورت كښې د جَنَّت نه ختميدونكي اَبَدي راحتونه او د فيل كيدو په صورت كښې د دوزخ دردناك عذاب دې!

مخکښ مړ کيدو نه دي کول پکار
تيارې هُم د عُقبٰى آخِر مرګ دي

## د مسلمانانو خلاف سازشونه

آه! نن د مسلمانانو خلاف زبردست سازشونه کيږي، په قلاره قلاره د هغوئي د زړونو نه د اسلام محبَّت لرې کولې شي، د خوږ مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عَظَمت [او ادب] ئې د زړونو نه د ختمولو کوششونه کيږي، د خوږ مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو محبَّت ئې د زړونو نه وِيستلې کيږي، کوم کارونه چه زمونږه په معاشره کښ کيږي هغې ته لږ سوچ خو اوکړئ! افسوس! د ودونو او د نورو خوشحالو په موقعو باندې مسلمانان په سړکونو ګډيږي، د شرم و حياء پرده تار تار کړې شوې ده.

ولولہ سنّتِ محبوب کا دیدے مالک
آہ! فیشن پہ مسلمان مرا جاتا ہے

الله راکړې ته جذبه د محبوب د سُنَّتو
مسلمان نن په فيشن باندې فِدا دي

## يو لاك روپۍ اِنعام

بهرحال د اسلام د دُښمنانو دا سازشونه د اوس نه نه، بلکه د ډيرې مودې نه روان دي چه مخکښ مسلمانان د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو نه لرې کړئ، دوئي ته د عيش او عِشرت عادت ورکړئ بيا

چه څومره غواړئ د دوئي نه بې وقوفه جوړ کړئ او په دوئي بادشاهي کوئ. زما په خيال چه نن صبا به څلور يا پينځه فِيصده مسلمانان نمونځ کوي، يعني ۹۵ فيصده مسلمانان شايد چه نمونځ نه کوي او څومره خلق چه نمونځ کوي نو په هغوئي کښې به هُم شايد چه په زرګاؤ کښې يو څو کسان داسې وي چه د ظاهري او باطِني آدابو سره به نمونځ کول ورځي! دا وخت غټه اجتِماع ده، په دوئي کښې به ښه ښه تعليم يافته کسان هُم وي، څوك به ماسټر وي څوك به ډاکټر وي، څوك به اِنجِينئر وي څوك به افسر وي. د عُلماءِ کرامو نه علاوه که د لکونو عامو مسلمانانو په اجتِماع کښې يو لاك روپۍ ښکاره کړې شي او دا تپوس اوکړې شي چه په نمانځه کښې څو ارکان دي؟ صحيح جواب ورکولو والا ته به يو لاك روپۍ انعام ورکړې شي نو شايد چه هغه يو لاك روپۍ به محفوظه پاتې شي. ولې؟ ځکه چه د دُنيا هر يو فن ئې زده کړو خو د نمانځه د ارکانو طرف ته ئې هېڅ توجُّه نه ده تلې! نن صبا نمونځ ګُزاره ته هُم شايد چه دا نه ده معلومه چه د نمانځه څو ارکان دي، سجده په څو هډوکو کيږي يا په اوداسه کښې څو فرض دي.

کام دیں سے رکھ، نہ رکھ دنیا سے کام پھر نہ سر گردان آخر موت ہے
دولت دنیا کو نفع سمجھا ہے دیں کا ہے نقصان آخر موت ہے

www.dawateislami.net

اوکړه دِين ته توَجُّه، پرېږده دُنيا
مه ګرځېده سرګردانه آخر مرګ دې
ګټه مو ګڼړلې د دُنيا دولت
خو پېکښې دې د دِين نقصان آخر مرګ دې

## د پلار جنازه

د پلار جنازه ئې پرَته ده خو ماډرن [يعني په فرنګي فيشن کښې اخته] ځوئ ئې سر ښکته نيولې جُدا ولاړ دې، عاجزه ته د جنازې د نمانځه کولو طريقه هُم نه ده ياده! ولې؟ ځکه چه مړ شوې بدنصيبه پلار ځوئ ته صرف د دُنياوي تعليم لار ښودلې وه، صرف د دولت ګټلو طريقې ئې ورته ښودلې وې، افسوس! ډېر افسوس دې چه! د جنازې د نمانځه طريقه ئې ورته نه وه زده کړې، که پلار ئې ورته د جنازې نمونځ زده کړې وې، د قُرآنِ پاك تعليم ئې ورکړې وې، که په سُنَّتو باندې د عمل عادت ئې ورکړې وې نو د ده د مرګ نه پس به ئې ځوئ ولې لرې اودريدلې بلکه پخپله به مخکښې شوې وې او د ده د جنازې جمع به ئې ورکړې وه او ډېر ډېر ايصالِ ثواب به ئې هُم ورته کړې وو. خو آه! ده ته خو د ايصالِ ثواب کولو طريقه هُم نه ورځي! هائے هائے! د مړ پلار بدنصيبي!

## د کور نه بهر اِيصالِ ثواب خو دننه....؟

يو اسلامي ورور ما ته د مرکزُ الاولياء لاهور دا واقعه بيان کړې وه چه زمونږه يو خپلوان د مال کټلو د پاره د پاکستان نه بهَر تلې وو او چه مال ئې اوکتو نو رنګين ټي وي او وي.سي.آر ئې خپل کور ته را اوليږل، بيا چه پخپله وطن ته راغې نو په حق اورسيدو. اسلامي ورور وئيلې چه زما مشر ورور د خپلوئ د لحاظ په وجه د مرحوم په لَسَمه [يعني د لَسمې ورځې د ايصالِ ثواب په ختم] کښې د شرکت د پاره مرکزُ الاولياء لاهور ته لاړو. چه کله د کور خوا ته ور اورسيدلو نو د کور نه بهر ختم کيږې او د خيرات ديګونه پخيږې، خو چه کور ته دننه ورغلو نو حيران پاتې شو ځکه چه د مرحوم کونډه ښځه او بچې ناست دې په وي.سي.آر باندې فِلم ګورې! آه! د کور نه بهر اِيصالِ ثواب او د مړې په کور کښې دننه هُم د هغه راوړې وي.سي.آر باندې مَعَاذَالله ګناه جاري وه!

ايمان پہ موت بہتر او نفس! تيری ناپاک زندگی سے

(حدائق بخشش شريف)

په اِيمان باندې بهتر دې مرګ ستا د ناپاکه ژوند نه اے نفسه!

## د دِين نه لرې کولې شي

د خپل اولاد سره محبَّت کوونکو! تاسو که خپلو بچو له د فِلمونو، ډرامو کتلو د پاره ټي وي، وي.سي.آر [او د کيبل او انټرنيټ

سهولت] اخلئ نو شايد چه هغوئي به ستاسو د جنازې نمونځ هُم اونکړي بلکه ستاسو قبر ته به په صحيح معنو کښې فاتحه هُم نه شي لوستلې. څوك چه **د قيامت امتحان** ياد ساتي، د هغوئي زړه خوګيږي په دې خبره چه زمونږ په زړونو کښې چه د اسلام لپ ډير **محبَّت** دې د هغې د وِيستلو کوششونه هُم کيږي. اُوګورئ! هَسپانِيه (اِسپين) چه په يو وخت کښې د اسلام مرکز وو، هلته جُماتونو ته جَندرې [يعني تالې] اولګولې شوې! ځينې داسې ملکونه هُم شته دې چه هلته قُرآنِ شريف لوستل خو څه، بلکه ځان سره ساتلو باندې هُم پابندي ده. د اسلام د دُښمنانو له طرفه دا سازش روان دې چه د دې مسلمانانو د زړونو نه د دِين **محبَّت** اوباسئ. بيشکه دوئي دِ ځان ته مسلمانان وائي خو دوئي د دننه نه بالکل خالي کړئ.

کثرت اولاد ثروت پر غُرور
کیوں ہے اے ذیشان آخر موت ہے

په کثرتِ اولاد او دولت باندې غرور
مه کړه اے ذِيشانه آخِر مرګ دې

## مسلمان ئې مسلمان چرې پريښې دې؟

د يو پاکستاني عالِم د يو غير مُسلِم مَذهَبي رهنُما سره يوه **مُکالَمه** شوې وه، هغه په خپل انداز کښې عرض کووم: د خبرو په دوران

www.dawateislami.net

کښې غير مُسلِمه رهنما اووئيل چه په پاکستان کښې زمونږه د مذهب په تبلِيغ باندې ډير زيات رقم خرچ کيږي. هغه عالِم صاحب ترې تپوس اوکړو چه: تاسو تر اوسه پورې د څو فِيصده مسلمانانو مذهب بدل کړې دې؟ هغه اووئيل: د ډيرو لږو. نو هغه عالِم صاحب په فاتِحانه انداز کښې اووئيل چه: د دې مطلب دا دې چه ستاسو تحريکونه زمونږه په وطن کښې ناکامه دي. په دې خبره هغه اوخندل او اوئې وئيل چه: مولوي صاحب! دا صحيح ده چه مونږه زيات شمير مسلمانان په خپل مذهب کښې شاملولو کښې کاميابي نه ده حاصله کړې ليکن دا خو هُم اوګورئ چه مونږه مسلمان عملي طور مسلمان چرې پريښې دې؟ آيا تاسو په کِيره خرئيلي او پينټ شرټ اغوستلو والا مسلمان او غير مُسلِمه کښې فرق کولې شئ؟ که ستاسو يو ماډرن [يعني فرنګي فيشن کوونکې] مسلمان ځلمي د يو غير مُسلِمه سره يو ځائ اودرولې شي نو آيا تاسو به ئې پکښې اُوپيژنئ چه په دوئي کښې مسلمان کوم يو دې؟ په دې خبره عالِم صاحب لاجوابه شو! خوږو خوږو اسلامي وروڼو! دا حقيقت دې چه مَعَاذَاللهُ [يعني د الله پناه] چه زمونږه د شکل او صورت او لباس نه د مسلمانانو ظاهري نښې تقريباً ختمې شوې دي، د سُنّتو نه ډير زيات لرې وتي يو، داسې مسلمانان د کومو مخونه

چه د حُضُورِ پاك صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّت مطابق وي شايد چه په دُنيا کښې به يو فيصده پاتې وي!

## د شيطان سازش

افسوس! تقريباً ۹۹ فيصده مسلمانان نن د غير مُسلِمو په شان مخونه جوړوي او د هغوئي په شان لباس اغوندي. کيدې شي چه زما خبره په چا بده لګي او په دې وجه د هغه په زړه کښې ما ته غُصَّه هُم پيدا کيږي، **ياد ساتئ!** د شيطان يو سازش دا هُم دې چه کله مسلمانانو ته د دِين څه خبره اوکړې شي نو هغوئي ته غُصَّه ورشي او روان شي د پاره د دې چه په دماغو ئې د نيکئ څه خبره هډو اثر اونکړې. شايد چه شيطان به زما په خبرو ډير خاندي چه که په لکونو مسلمانان هُم د **دعوتِ اسلامي** مَدَني ماحول ته راغلي وي نو څه به اوشي! [او وائي به چه] په دُنيا کښې داسې په کروړاؤ مسلمانان دي چه ګِيرې خرَوي يا ئې د يو مُوټې نه کَموي او د اسلام د دُښمنانو په شان شکلونه جوړوي او د هغوئي په شان جامې اغوندي. او د نن صبا د بيشميره مسلمانانو د بې عَمَلئ په وجه به [شيطان] غالِباً چه د دعوتِ اسلامي مبلّغينو ته هُم دا وائي چه که تاسو هر څومره زور اولګوئ اوس خلق ستاسو د خبرو منلو والا نه دي، ما د هغوئي تهذيب و تَمَدُّن [يعني اخلاق او د اوسيدو طريقې] بالکل بدلې

www.dawateislami.net

کړي دي، د هغوئي مخونه او لِباس به ستاسو د محبوب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنَّتو مطابق نه بلکه زما د ملګرو او جهنَّم کښ زما سره يو ځائ د اوسيدونکو په شان وي. زه به هغوئي په نفساني خواهشاتو کښ اخته ساتم.

سرورِ دیں لیجے اپنے ناتوانوں کی خبر
نفس و شیطاں سیِّدا کب تک دباتے جائیں گے
(حدائق بخشش شریف)

اے د دِين سروره خبر واخلئ د کمزورو اُمَّتيانو
تر کومه به اخته يو د نفس او د شيطان په شرارت کښ

## د ګناهونو آلات

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** په شروع شروع کښ به د ريډيو پاکستان نه "ستاسو فرمائِش" په نوم [يو پروګرام] کښ سندرې اَورَولې شوې خو هر چا به د خپلې خوښې مطابق سندره نه شوه اوريدلې. بيا **ټيپ ريکارډونه** اِيجاد شو او هر چا د خپلې خوښې سندرې اوريدل شروع کړل، کيدې شي چه څوك وائي چه زه خو په ټيپ ريکارډر کښ نعتونه او بيانونه وغيره اورم، تاسو صحيح فرمائې خو زه د اکثرو خلقو خبره کووم، يقيناً نن صبا به په زرګاؤ بلکه په لکونو خلقو کښ شايد که داسې مسلمان وي چه هغه به صرف د تِلاوت او نعتونو او بيان اوريدلو د پاره ټيپ ريکارډر

اخلي، اکثر خلق ئې د سندرو اوريدلو د پاره اخلي. بلکه ډير ځل د سُنَّتو درد لرونکي اسلامي وروڼره ما ته د خپل زړه خفګان بيانوي او وائي چه کله مونږه ستاسو د بيان کيسټ اورو نو د کور کسان راسره جګړه کوي او په زور د فلمي سندرو کيسټ اولګوي، زمونږه بې عِزَّتي کوي او تاسو (يعني سګِ مدينه عُفِيَ عَنهُ) ته هُم بد رد وائي. آه! يَارَسُولَ اللّٰه!

ٹھکرائے کوئی دُرکارے کوئی، دیوانہ سمجھ کر مارے کوئی
سلطانِ مدینہ لیجے خبر ہوں آپ کے خدمتگاروں میں

خوک ئې شړي، خوک ئې رټي وهي، او ليوني ئې ګڼړي
سُلطانِ مدينه خبر واخلئ د خپلو خدمتګارو

## ټي وي کله اِيجاد شو؟

خلق نور هُم ګمراهئ ته د راښکلو د پاره شيطان په سن ۱۹۲۵ء کښې ټي وي هُم اِيجاد کړو. په شروع شروع کښې به دا صرف د غير مُسلِمو سره وو، د هغې نه پس مسلمانانو ته او پاکستان ته هُم را اورسيدو، په شروعِ شروع کښې به په غټو ښارونو کښې په خاصو خاصو پارکونو کښې لګيدلي وو او د خلقو ګڼړه به ورته راجمع شوي وه، بيا په قلاره کورونو ته ننوتو، خو تر اوسه لا دا بليك اينډ وائټ وو، د هغې نه پس د نور خوند اخستلو د پاره رنګين ټي وي

ايجاد شو. بيا څه موده پس پاکستان ته وي سي آر راغيې او په کورونو کښې غير قانوني سينماګانې چليدل شروع شو او خلقو به په پټه په لس لس روپۍ فلمونه کتل. په هُم هغه ورځو کښې په اخبار کښې دا خبر راغيې چه د کراچۍ د پاره د وي سي آر دومره دومره لائسنسې جاري شوې! د هغې نه پس د فِلمونو کوم "جُرم" چه خلقو په رشوتونو ورکولو او پټ پټ کولو هُم هغه ګناه ته مَعَاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ "قانوني حيثِيَّت" ورکړې شو! او د قِسم قِسم ګناهونو نه ډکو فِلمونو د سپيره والي سره وي سي آر کور په کور عام شو. ياد ساتئ! که مُلکي قانون کومه ګناه جائزه کړي نو هغه نه جائزه کيږي.

کب گناہوں سے کنارہ میں کروں گا یارب!

نیک کب اے میرے اللہ! بنوں گا یارب!

کله به ډېره ګناهونو نه زه کړمه ربه!

کله به نيك زما اللّٰه زه جوړ شمه ربه!

## جهنّم ته د غورزيدو دباؤ اچول

**يو ځل يو ځلمي** سکِ مدينه عُفِيَ عَنهُ ته اووئيل چه: ما د باب المَدينه **کراچۍ** په علاقه رنچهوړ لائن کښې د **دعوتِ اسلامي** په يوه اجتماع کښې د سُنَّتو ډك بيان واوريدو او د ګيرې مبارکې په سُنَّت مې عمل اوکړو. زما مور ما د ګيرې پريښودو نه منع کوي او دا دباؤ اچوي

www.dawateislami.net

چه که تا ګیره اُو نه خرئیله نو زه به زهر اوخورم او ځان به مړ کړم.
دا ځلمي د کوم یو کافِر ځوئ نه وو بلکه مسلمان وو او د هغه مور
چه ځان ته ئې مسلمانه هُم وئیله او هغه ئې د سُنَّتو نه منع کولو او
د خودکُشئ کولو دباؤ ئې هم اچولو، یعني لکه داسې ئې وئیل چه
ځویه! ګِیره اُوخرئیه ګنې ځان به جهنَّم ته غوزار کړم. آه! ځان ته
مسلمان وئیلو والا خلق د سُنَّتو نه دومره لرې دي! اَلْاَمَان وَالْحَفِیْظ.

وہ دور آیا کہ دیوانہ نبی کیلئے    ہر ایک ہاتھ میں پتّھر دکھائی دیتا ہے

هغه دَوَر راغې چه په عاشقِ رسول پسې
هر یو راغستې دې په لاس کښې کانړې

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! یاد ساتئ چه ګِیره خرئیل یا د یو
مُوټې نه وړه کول ګناه حرام او جهنَّم ته بوتلونکې کار دې او که
مور او پلار د کومې ګناه د کولو حُکم اوکړې نو د هغوئې هغه
خبره به نه منلې کیږي ځکه چه په حدیثِ پاك کښې دي چه: ''لَا
طَاعَةَ فِی مَعْصِیَةِ اللهِ اِنَّمَا الطَّاعَةُ فِی الْمَعْرُوْفِ'' یعني د اللّٰه تعالٰی په نافرمانئ
کښې د هیڅ چا اِطاعَت [یعني منل] جائز نه دي، اِطاعت [یعني منل]
خو صرف د نیکئ په کارونو کښې دي. (صحیح مُسلِم ص۱۰۲۳ حدیث۱۸۴۰) او
کوم مور او پلار چه خپل اولاد د ګیرې پریښودو نه منع کوي هغوئې
ته داسې نه کول ضروري دي ځکه چه ګیره پریښول سُنَّتِ رسول او

www.dawateislami.net

يوه عظيمُ الشَّانه نيکي ده، د نيکئ او ښيګړې نه منع کول د مسلمان نه بلکه د غير مُسلِمو کار دې. چنانچه د ډير غټ ګُستاخ رسول وَلِيد بِن مُغِيره چه کوم لس عيبونه په قُرآنِ پاك کښې بيان شوي دي په هغې کښې يو عيب دا هُم دې:

مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ
(پ ۲۹ :القلم آيت:۱۲)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: د نيکئ نه ډير زيات منع کوونکې.

## جاهِل پروفيسر

**ځيني** خلق وائي چه د ټي وي په چينلو کښې ښې ښې خبرې هُم راځي، راځي به پکښې، خو واورئ چه د دې ټي وي غير ذِمَّه دارو چينلو په حقيقت کښې د خطرناکې بدتميزئ طوفان راوستې دې او اسلامي معاشره ئې د بدتميزئ د طوفان سره **مخامخ** کړې ده. وائي چه: د ټي وي په يو چينل يو ځل يو **پروفيسر** راغلې وو، سوال او جواب جاري وو، په **هغې** کښې يو د ګيرې په باره کښې سوال راغې نو په جواب کښې ئې اووئيل چه: ”که ګيره پريږدې نو هُم صحيح ده او که نه ئې پريږدئ نو هُم صحيح ده، ګيره نه پريښودل هيڅ ګناه نه ده.“ په دې وجه خو ځيني مور او پلار د خپلو ځلمو ځامنو نه خفه کيدل شروع کړې دي او غلطې خبرې کوي چه تاسو **دعوتِ اسلامي** والؤ په ځان باندې څه څه سختئ مُسَلَّط کړې دي. دومره

www.dawateislami.net

غټ پروفيسر په تپي وي راغيږ او هغه اووئيل چه ګيره نه پرېښودل ګناه نه ده او تاسو وائي چه ګناه ده. د دِين په معامله کښې د هغه بې خبره **جاهِل پروفيسر** دې غير شرعي خبرې، مګر د بې عمله خلقو د نفس د خوښې خبرې معلومه نه ده چه د ځومره مسلمانانو ذهنونه خراب کړل! خير د عشقِ رسول نه ډك زړه نه هُم دا آواز راځي: ؎

مجھے پیارا وہ لگتاہے،مجھے میٹھا وہ لگتا ہے
عمامہ سرپہ اورچہرے پہ جو داڑھی سجاتا ہے

ما ته ښکلي هغه ښکاري، ما ته خوږ هغه ښکارېږي
چه په سر ئي عِمامه وي او په مخ ئي ښکلي ګِيره

## د نفس او شيطان خِلاف جِهاد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده چه په ځومره چالاکئ د اسلام جرړې کټ کيږي. آيا مونږه هيڅ هُم نه شو کولې؟ څه ولې نه شو کولې! خفګان خو کولې شو او په هغې ثواب ګټلې شو، اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د نفس او شيطان خلاف به مونږه جنګ جاري ساتو.

سنّتیں عام کریں دین کا ہم کام کریں
نیک ہو جائیں مسلمان مدینے والے

چه روان شي په سُنّتو او کوي د دِين کارونه
چه شي نيك مسلمانان مَدَني خوږه سرداره

www.dawateislami.net

## کِيره خرئيل حرام دي

اعلٰحضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡہ په خپله رساله ”لَمۡعَۃُ الضُّحٰی فِیۡ اِعۡفَاۗءِ اللُّحٰی“ کښې د آياتِ مُقَدَّسه او اَحادِيثِ مُبارکه او د بزرګانِ دِين رَحِمَہُمُ اللّٰہ تَعَالٰی د اَقوالِ شرِيفه نه ثابت کړې دي چه کِيره پريښودل واجِب او خرئيل يا د يو مُوټې نه وړه کول حرام دي. د کِيرې پريښودلو د اَهَمِّيَّت په باره کښې د مَکۡتَبَۃُ الۡمَدِيۡنه رِساله ” کالے بچّھو“ (۲٤ صفحې [اُردو]) ضرور اولوَلئ. خدانخواسته که تاسو کِيره نه ئې پريښودې نو اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالیٰ توبه به اوکړئ او د مَدَني سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنّتو مطابق به کِيره پرېږدئ.

## د ځنکدن زړه درزوونکې تصوّر!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! کله په تنهائې [يعني ځان له ځائ] کښې کښېنئ او سوچ اوکړئ چه يو وخت به مې ځنکدن هُم راځي، رُوح به مې د بدن نه خيژي، د مرګ پرله پسې جټکې به راځي او آه! جټکې هُم داسې چه په حديثِ پاك کښې دي: ”د مرګ هره جټکه د تُورې د زرو ګُزارونو نه زياته سخته ده.“ (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت ص ٤٩٦، حِلیَۃ الاَولیاء ج ۸ ص ۲۱۸ حدیث ۱۱۹۳) هائے! هائے! زما سره به څه کيږي، ما خو د دُنيا په تماشو کښې عُمر تير کړې دې، د ښو نه ښو خوراکونو او

www.dawateislami.net

دُنياوي نعمتونو شوقونه مې کړي دي حالانکه په رِوايت کښې راغلي دي: بيشکه د ځنکدن سختي د دُنيا د خوندونو مطابق ده، نو چا چه خوندونه ډير اغستي وي هغه ته به دځنکدن تکليف هُم زيات کيږي. (منهاجُ الْعَابِدِين ص۸۵) بيا به هغه وخت هُم راشي چه زما د نوم آوازه به کېږه وي چه فلانکې په حق رسيدلې دې، زر کوئ لَمبولو والا راولئ! بيا به لمبولو والا تخته راغستي وي او راروان به وي، زما په مړ وجود باندې به څادر خور وي، زنې به ئې راله تړلې وي، د ښپو غټې ګوتې به ئې راله د يوې بلې سره تړلې وي، غَسَّال [يعني لمبولو والا کس] به غُسل راکوي او کفن به هُم هغه را اغوندي، ځوئ به مې نه غُسل راکوي او نه به کفن را اغوندي ځکه چه هغه ځنګه په ښه بد پوهه شو نو د سکول دروازه مې ورښودلې وه، چه غټ شو نو په کالج کښې مې داخِل کړو بيا مې د اعلٰی تعلِيم د پاره امريکې ته اوليږو، د دُنياوي امتحانونو مې ښه ډيره جذبه ورکړې وه، خو دِين مې ورته بالکل نه وو ښودلې! دې به مړې څه اولمبوي! ده ته خو خپل ژوندي وجود ته د غُسل ورکولو سُنَّتونه هُم نه دي معلوم. واورئ واورئ د پلار آخري خِدمت دا هُم دي چه د هغه ځوئ پخپله هغه **اولمبوي**، کفن ور واغوندي، د جنازې جَمعه ئې هُم پخپله ورکړې او په خپلو لاسو ئې خخ هُم کړي. ښکاره خبره ده چه

www.dawateislami.net

خپل ځوئ ئې غُسل ورکوي نو په ژړا ژړا او د سُنَّتو مطابق به ئې ورکوي او د کرايه غَسّال [يعني غُسل ورکوونکې] خو به پرې هسې اوبه واړوي، کفن به ور واغوندي او پيسې به جيب کښې واچوي او روان به شي.

## په مړي پسې د نوحه کولو عذاب

بيا به جنازه اوچته کړې شي، د کور ښځې به ژاړي چغې سُورې به وهي، ما هغوئي ته کله دا نه وو وئيلي چه په مړي پسې نوحه کول حرام او جهنَّم ته بوتلونکې کار دې، په حديثِ پاك کښې دي چه: نوحه کوونکې که د مرګ نه مخکښې توبه اونکړه نو د قيامت په ورځ به داسې اودروله شي چه په هغې باندې به يوه کُرتئ د **قَطِران** (يعني يو قِسم د **چِيرِ** په شان تينګې مادې کُرته) وي او يوه کُرتئ د جَرَب (يعني د خارخت) وي. (صحيح مُسلِم ص٤٦٥حديث٩٣٤)

## جنازې له د اُوګې ورکولو طريقه

بهرحال خلق به مې جنازه پورته کړي او روان به شي، ځوئ به مې شايد چه په صحيح طريقه اُوګه هُم نه شي ورکولې ځکه چه ما هغه ته هډو زده کړې نه وو! هغه غريب ته څه معلومه ده چه جنازې له د سُنَّت مطابق څنګه اُوګه ورکوي؟ جنازې له د اُوګې ورکولو طريقه هُم واورئ، د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري **مَكْتَبَةُ**

www.dawateislami.net

الْمَدِينه چاپ شوي، بهارِ شريعت جِلد اوَّل صفحه ۸۲۲ کښې دي:
سُنَّت دا دي چه پرله پسې هرې يوې ښپې ته يعني څلورو واړو ښپو ته دِ اُوګه ورکوي او هره يوه دِ لس قدمه وړي او پوره سُنَّت دا دي چه مخکښې د سر ښي طرف ته اُوګه ورکړي بيا د ښئ ښپې طرف ته بيا د سر ګڅ طرف ته او بيا ګڅې ښپې له اُوګه ورکړي او لس لس قدمه لاړ شي نو دا ټول څلويښت قَدَمه شو.

## جنازې له د اُوګې ورکولو فضائِل

په حديثِ پاك کښې دي: "څوك چه جنازه واخلي او څلويښت قَدَمه لاړ شي د هغه څلويښت کبيره ګناهونه به وران [يعني معاف کړې شي" (اَلْمُعْجَمُ لْاَوْسَط ج٤ ص٢٦٠ حديث٥٩٢٠) په يو بل حديثِ پاك کښې دي: "څوك چه د جنازې څلورو واړو ښپو له اُوګه ورکړي، الله تعالیٰ به د هغه حَتمي (يعني مُستقِل) مغفرت اوفرمائي." (الجوهرة النيرة ج١، ص١٣٩)
آخر دا چه زما خپل خواږه خلق به ما په خپلو لاسو تنګ او توره تِياره قبر ته کُوز کړي او د منونو خاورو نه به مې لاندې يواځې پريږدي او لاړ به شي. آه!

قبر میں مجھ کو لٹا کر اور مٹّی ڈال کر چل دیے ساتھی نہ پاس اب کوئی رشتے دار ہے
خواب میں بھی ایسا اندھیرا کبھی دیکھا نہ تھا جیسا اندھیرا ہماری قبر میں سرکار ہے

www.dawateislami.net

یا رسول اللہ! آ کر قبر روشن کیجئے
ذات بے شک آپ کی تو منبعِ انوار ہے

(وسائل بخشش شریف)

قبر كښې ئې زه د خاورو لاندې كړم
ټول رانه روان شولو ملګري او رِشته دار زما
كله مې په خوب كښې هُم ليدلې نه وه دا تِياره
څنګه چه تِياره ده په قبر كښې سركار زما
يَارَسُولَ اللّٰه! راشئ روښانه كړئ زما قبر
ستاسو ذات بيشكه نُوراني دې خوږ سردار زما

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قبر د رڼړا احساس پاتې نه شو

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! خلق په دُنيا كښې د اوسيدو د پاره ډير غټ غټ كورونه جوړوي خو افسوس! قبر د سُنَّت مطابق نه شي جوړولې.[2] د كورونو د فراخئ خو خيال ساتو خو د قبر د فراخئ هيڅ احساس نه لرو، د دُنيا د **مستقبل د** روښانه كولو فِكر خو هر يو لري خو د قبر رڼړا ته د هيڅ چا هُم خيال نشته. حالانكه

[2] د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي [رِساله] "مَدَني وصِيَّت نامه" ضرور اولولئ. د هغې په آخِره كښې د مړي د غُسل او د كفن دَفَن ضروري اَحكام هُم درج دي.

www.dawateislami.net

قبر هُم په مستقبل کښې شامل دي. په کور کښې د رنړا هر يو اهتمام کوي خو **د قبر د رنړا** فِکر څوك نه کوي. د مال زياتولو کوشش هر يو کوي خو د نيکو اعمالو د زياتولو فِکر د چا سره نشته! د بدن د سلامتئ د پاره ډير فِکرمند وي خو د اِيمان د سلامتئ شُعور [يعني فِکر] ډير کم شوې دې.

ع مال سلامت ہر کوئی منگے دِین سلامت کوئی ہو

ترجَمه: مال سلامت هر يو غواړي، دِين سلامت يو نِيم کس غواړي

## شِفا په بيعه نه اخسته شي

ياد ساتئ! په دولت دَوا [يعني دارو] خو اخستې شي خو شفاء پرې نه شي اخستې، که په دولت شِفاء اخستې شوې نو د غټو مالدارانو بچي به په هسپتالونو کښې په ارغښتو ارغښتو کله هُم نه مړه کيدې! دولت د مصيبتونو او پريشانو علاج نه دې، په دې کښې هيڅ شك نشته چه په حلاله طريقه مال او دولت ګټل او هغه ځان سره جمع ساتل شرعاً جائز دي هله چه د هغې حُقُوقِ واجِبه ادا کوي. خو د دولت د زياتوالو حِرص ښه خبره نه ده، د دې منفي اثرات ډير زيات دي. د دولت ډير والې عام طور د ګناهونو طرف ته په ډيره تيزئ بوتلل کوي، او نن صبا د دولت ډيروالې اکثر د مصيبت ذريعه جوړيږي، ډاکې اکثر د مالدارانو په بنګلو وهلې کيږي، عام طور د

www.dawateislami.net

مالدارانو بچي اغوا کيږي، ډاکوان د غټو غټو رقمونو د مطالبې د پاره اکثر سرمايه دارو ته چيټۍ ليږي، په دې دور کښې د دولت د ډيروالي په وجه د زړه سکون حاصليدل خو پريږده بلکه د ډيرو خلقو سکون ورسره بربادېږي، خو بيا هُم عجيبه خبره ده چه خلق د دولت حاصلولو د پاره ليوني ليوني ګرځي او د حرامو او حلالو پرواه نه کوي.

جُستجو میں کیوں پھریں مال کی مارے مارے
ہم تو سرکار کے ٹکڑوں پہ پلا کرتے ہیں
په دولت پسې به ولې خوار و زار يو
زمونږه روانه ګزاره ده د آقا په ټکړو

## مالدارۍ او بيمارۍ

غټ غټ دولت مند شته دې چه هغوئي په قِسم قِسم پريشانو کښې اخته دي، خوك د بچو د پيدائش ارماني دې، د چا مور بيماره ده او د چا پلار مريض دې نو خوك پخپله په موذي مرض کښې اخته دې، ډير مالداران به تاسو وِينئ چه په هغوئي ”**هارټ اَټيك**“ [يعني د زړه دوره] راغلي وي، ډير داسې دي چه د شُوګر په مرض کښې اخته دي او عاجزان څه خوږ څيز نه شي خوړلې. قِسما قِسم خوراکونه ئې مخې ته پراته وي خو ارب پتي مالدار صاحب ئې څَکلې هُم نه شي، بس عاجزه صرف د دولت او جائيداد په تصوّر خپل زړه

www.dawateislami.net

خوشحالولې شي، خو بيا هُم د دولت نشه داسې عجيبه ده چه هډو لرې کيږي نه! يقين اوکړئ چه! د حلال او حرام د پرواه کولو نه بغير دولت ګټل صرف او صرف د نادان انسان کار دې، دومره سوچ نه کوي چه آخر په دومره دولت به څه کووم؟ فلانکې سرمايه دار هُم آخر چا مړ کړو! د هغه دولت د هغه څه پکار راغې؟ بلکه بد کار دا اوشو چه د هغه وارثان د جائيداد په تقسيمولو کښې په خپل مينځ کښې په جګړو کښې اخته شو، په خپل مينځ کښې ئې دُښمنئ جوړې شوې، عدالتونو ته اورسيدل، خبرونه ئې په اخبارونو کښې چاپ شو او د خاندان عِزَّت ئې خاورې شو. ـ

دولتِ دُنیا کے پیچھے تُو نہ جا　　آخِرت میں مال کا ہے کام کیا؟
مالِ دُنیا دوجہاں میں ہے وبال　　کام آئے گا نہ پیشِ ذُوالجلال

مه کوه لالچ د دُنيا د دې دولت　　نه راځي دا وروره پکار د آخِرت
مال دې د دنيا يو لوئې وَبال　　نه راځي پکار دا په دربار د ذُالجلال

## د قبر سوال او جواب

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! کله کله داسې سوچ کوئ چه! يوه ورځ به ما د منونو خاورو نه لاندې خخ کړي او خپل خپلوان به را نه بيرته لاړ شي. دا ښکلې ګُلستان، دا ښنه ښنه پټې، د نوي ماډل چمکدار ګاډې او عاليشانه بنګلې به مې هيڅ په کار رانشي. دوه د

خوفناكو شكلونو والا فرښتې **مُنكَر** او **نَكِير** به د قبر ديوالونه اوڅيري او تشريف به راوړي، اوګده اوګده تور تور وِيښته به ئې د سر نه ښپو پورې رازوړند وي، د سترګو نه به ئې اور وريږي، بيا به زما **امتحان** شروع شي، په مِينه او **محبَّت** نه بلکه هغوئې به مې په رټلو پاڅوي او په ډير سخت انداز کښې به رانه تپوسونه کوي. (۱) مَن رَّبُّكَ ؟ يعني ستا رب څوك دې؟ (۲) مَادِينُكَ؟ يعني ستا دِين څه دې؟ (۳) بيا به د يو ښكلې ښكلې هستئ ديدار را اوكړې شي، په چا چه د قربانيدو د پاره هر عاشق بې قراره دې د هغه دلرُبا صورت ديدار چه را اوكړې شي نو تپوس به كيږي: مَا كُنتَ تَقُولُ فِي هٰذَا الرَّجُل ؟ يعني تا به د دوئي په باره كښې څه وئيل؟ اے نمونځ ګزارو! اے د مور او پلار فرمانبردارو! خپلوانو سره ښه سلوك كولو والؤ! اے صرف حلال روزي ګټلو والؤ! اے يو مُوټې ږِيره پريښودلو والؤ! اے د سُنَّت مطابق زُلفې پريښودلو والؤ! اے د عِمامې شريفې تاج په سر كولو والؤ! اے د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره په **مدني قافلو** كښې د سُنَّتو ډك سفر كولو والؤ! اے هره ورځ د فِكرِ مدينه په ذريعه د **مَدَني انعاماتو** رساله ډكولو والؤ! اِنۡ شَآءَاللّٰه تعالىٰ تاسو به ضرور كاميابيږئ، د **الله** جَلَّ جَلَالُهٗ او مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په كرم به ستاسو جوابات دا وي: رَبِّـىَ اللّٰه يعني زما رب **الله** جَلَّ جَلَالُهٗ دې. دِينِيَ الۡاِسۡلَام يعني زما دِين اسلام دې.

د دِلرُبا صورت والا طرف ته به اشاره کوئ او دا به وائي:
**هُوَ رَسُولُ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يعني دا خو زما خوږ خوږ آقا **محمدٌ رَّسولُ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي، او په خوشحالئ خوشحالئ به دا وائي چه:

سرکار کی آمد مرحبا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم
دِلدار کی آمد مرحبا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم
سرکار راغلو مرحبا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم
دِلدار راغلو مرحبا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

قبر میں سرکار آئیں تو میں قدموں میں گروں
گر فرشتے بھی اٹھائیں تو میں ان سے یوں کہوں

اِنکے پائے ناز سے میں اے فِرِشتو! کیوں اُٹھوں
مر کے پہنچا ہوں یہاں اِس دلرُبا کے واسطے

قبر کښې چه راشي سرکار زه به ئې په ښپو پريوځم
چه پاخوي مې فرښتې نو زه به ورته دا وايم
ولې به پاخيږم اوس د دې ښکلو قدمونو نه
په مرګ رارسيدلې يم د پاره د دې دِلرُبا

اے په شوق صلوٰة و سلام لوستلو والؤ! د **محمَّد** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نوم اوريدلو خپلې ګوتې ښکلولو والؤ! چه کله سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپله ښکلې نظاره ښکاره کولو نه پس بيرته تشريف وړي نو د بې قرارئ په حالت کښې به مو بې اختياره په ژبه دا جاري شي:

www.dawateislami.net

دل بھی پیاسا نظر بھی ہے پیاسی　　کیا ہے ایسی بھی جانے کی جلدی

ٹھہر و ٹھہر و ذرا جانِ عالم!　　ہم نے جی بھر کے دیکھا نہیں ہے

زړه مې دې تږې هُم نظر تږې　　داسې زر مه ځئ مَدَني سرداره

حصارشئ لږ نور مَدَني جانانه　　زه لا موړ شوې په ديدن نه يمه

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د آخري تپوس د جواب ورکولو نه پس به د جَهَنَّم کړکۍ برسيره شي او فوراً به بنده شي او د جَنَّت کړکۍ به برسيره شي او اُو به وئيل شي چه: که تا صحيح جوابونه نه وې راکړې نو ستا د پاره هغه د دوزخ کړکۍ وه. دا چه واورې نو هغه به ډير زيات خوشحاله شي، بيا به جَنَّتي کفن وې، جَنَّتي بِستره به وې، قَبْر به د نظر رسيدو د حده پورې وسيع [يعني ارت] شي او بس صرف مزې او مزې به وې.

قبر میں لہرائیں گے تاحشر چشمے نور کے

جلوہ فرما ہو گی جب طلعت رسول اللہ کی

(حدائق بخشش)

تر قيامته به په ګور کښې وې انوار

نظاره چه پکښې اوشي د آقا

www.dawateislami.net

## د قبر په جوابونو کښ د ناکامئ اسباب

خدانخواسته که چا نمونځونه ضائع کړي وي، دروغ ئې وئيلي وي، غِيبتونه ئې کړي وي، حرامه روزي ئې ګټلي وي، فِلمونه او ډرامې ئې ‎ڼچپله کتلي وي، په نورو ئې کتلي وي او سندرې او سازونه ئې غږولي وي، د مسلمانانو زړونه ئې خفه کړي وي، [د چا نه] چه **الله** تعالیٰ ناراضه شو او د هغه **محبوب** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترې خفه شو، او که د ګناهونو د سپيره والي په وجه ئې **مَعَاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ ايمان برباد شوې وي نو بيا به ئې په هر تپوس باندې د خُلې نه هُم دا اُوځي چه: هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لَا اَدرِی (هائے افسوس! هائے افسوس! ما ته خو هيڅ نه دي معلوم) هائے! هائے! چه د کله نه مې سترګې غړولي وې نو نظر به مې د تې وې په طرف وو، په دې غوږونو مې ټول عُمر فِلمي سندرې اوريدلي دي، ما ته څه معلوم دي چه خُدائے څه ته وائي؟ زه څه خبر يم چه دِين څه ته وائي؟ ما خو دُنيا ته د خپلو راتلو مقصد صرف دا ګڼړلې وو چه بس په هره طريقه وي مال ګټه او بنځه او بچي ساته. که کله راته چا زما د آخرت د بهترئ د پاره د سُنَّتو ډکې اجتماع کښ د شِرکت يا په مَدَني قافِله کښ د سفر دعوت راکړې وو نو ما ورته دا بهانه کړې وه چه ټوله ورځ کار کووم بيا ستړې يم، هډو وخت راسره نشته. اسلامي ورنړو په ژوندون خو به دا جواب

اوچليرېي، كاروبار به مو ورځ په ورځ زياتيرېي او بينك بيلنس [يعني رقم] به مو ښه ډيريرېي خو ياد ساتئ!

سیٹھ جی کو فکر تھی اِک اِک کے دس دس کیجئے
موت آ پہنچی کہ مسٹر! جان واپَس کیجئے

خان جي سره دا غم وو چه به زيات كړم شنګه مال
مرګ ورته وئيل زه چه ځو ستا ختم شو اعمال

بهرحال د چا اِيمان چه برباد شوې وي د هغه نه د آخرې تپوس كولو نه پس به د جَنَّت كړكئ برسيره كړې شي او فوراً به بنده كړې شي بيا به د دوزخ كړكئ برسيره شي او ورته اُو به وئيل شي چه: كه تا صحيح جوابونه وركړي وو نو ستا د پاره هغه د جَنَّت كړكئ وه. دا چه واوري نو هغه به ډير زيات ارمان كوي، د جهنَّم د طرفه دروازې نه به هغه ته ګرمي او دَپ رارسيرېي، هغه ته به د اور جامې ور واغوستې شي، د هغه د پاره به د اور بِستره خوره كړې شي، په هغه باندې به د عذاب وركولو د پاره دوه فرښتې مقررې كړې شي، هغه به ړندې او كڼرې وي او د هغوئي سره به د اوسپنې ګُرز وي په هغې كه غر اووهلې شي نو خاورې به شي، په هغه ښتك به هغه مسلسل وهي. او ماران او لړمان به هغه ته عذاب وركوي، او اعمال به ئې په

مناسب شكل كښې بدل شي [يعني] سپي يا شرمښ يا بل شكل كښې به بدل شي او تكليف به وركوي. (بهارشريعت ج ۱، ص۱۱۰، ۱۱۱)

آج مچھّر کا بھی ڈنک آہ! سہا جاتا نہیں
قَبر میں بچھّو کے ڈنک کیسے سہے گا بھائی؟

لشه د ماشي هُم چه نه شي ته برداشت كولې
قبر كښې خنګه به برداشت كړې د لړم لشكه؟

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د دُنيا دولت خپله ټوله سرمايه ګڼړل عقلمندي نه ده، دا د **الله** تعالٰی د ياد نه د غفلت سبب جوړيدل نه دي پكار، **الله** تعالٰی اِيمان والؤ ته د سُورَةُ الۡمُنٰفِقُوۡن په نهم نمبر آيت كښې ارشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تُلۡهِكُمۡ اَمۡوَالُكُمۡ وَ لَاۤ اَوۡلَادُكُمۡ عَنۡ ذِكۡرِ اللّٰهِ ۚ

مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: اے اِيمان والؤ! چه نه ستاسو مال، نه ستاسو اولاد، يو خيز هُم تاسو د **الله** (جَلَّ جَلالُهٗ) د ذِكر نه غافِله نه كړي.

## دا مه وائې چه خوك پوهه كولو والا نه وو

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! درزقِ حلال د حاصلولو د پاره هيڅ كله هُم داسې ځان مه مصروفه كوئ چه د نمانځه نه مو غافله كړي، خدانخواسته كه د حرامې روزئ يا سُودي كاروبار سلسله مو

وي نو هغه پريږدئ، د رِشوت لين دين پريږدئ، اوګورئ! بيا د مړ کيدو نه پس داسې مه وائې چه مونږه چا پوهه کړي نه وو. په قِسم قِسم ګناهونو کښې اخته خلقو ته يَريدل پکار دي چه که د ګناهونو په سبب مو ايمان برباد شو نو څه به کيږي! **الله** تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د خلور وِيشتمې سيپارې د سُورَةُ الزُّمَر په آيت نمبر ٥٤ کښې ارشاد فرمائي:

وَاَنِيْبُوْۤا اِلٰى رَبِّكُمْ وَاَسْلِمُوْا لَهٗ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿٥٤﴾

مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان : او د خپل رب (جَلَّ جَلَالُهٗ) په طرف رُجُوع راوړئ او د هغه په بارګاه کښې سر ښکته کړئ مخکښې د دې نه چه په تاسو عذاب راشي بيا ستاسو مدد اونشي.

يا الٰہی مرا ایمان سلامت رکھنا

دونوں عالم میں خدا سایہ رحمت رکھنا

يا اِلٰهی زما اِيمان اوساتې سلامت

دواړو جهانو کښې خُدايا اوکړې رحمت

## مونږه ورځ په ورځ وړوکِي کيږو

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! د ژوند څه اعتبار! ستاسو صحت که هر څومره بهتر وي خو آيا تاسو ته نه ده معلومه چه ناڅاپه زلزله

راشي يا بسونه، موټرې او ريل ګاډې واوړي يا ناڅاپه دماکه اوشي او بيشميره خلق پکښې مړه شي او که جهاز په هوا کښې اوچوي نو بيا خو د مړو پيژندګلو هُم مشکله شي، عُهده او مَنصب هيڅ پکار نه راځي، بنده ناڅاپه مړ شي، دا قيمتي ساه ګاني رواني دي زر زر اوځي، کومه ساه چه يو ځل اوځي بيا بيرته نه راځي، يقيناً هره ساه د مرګ طرف ته يو قدم دې، تاسو وائې چه زما د ځوئ دولسمه سالګره ده، تاسو دا ګڼړئ چه غټ شو، که جَوَر سوچ ورته اوکړئ نو ستاسو ځوئ غټيږي نه بلکه ورځ په ورځ وړوکې کيږي، مَثَلًا د هغه په دُنيا کښې ټول ۲۵ کاله عُمر وو نو د هغې نه دولس کاله کم شو، لکه د هغه چه نيم عُمر تير شو، يقيناً مونږه ټول په قلاره قلاره مرګ ته نزدې کيږو، زمونږ د ټولو عُمرونه کميږي، دغسې مونږ ټول غټيږو نه بلکه "واړه" کيږو، د ګينټې [يعني ګړئ] هره تيريدو والا ګينټه زمونږه د عُمر د يوې ګينټې د کميدو خبر راکوي.

غافل تجھے گھڑیال یہ دیتا ہے مُنادی
گردُوں نے گھڑی عمر کی اِک اور گھٹادی

غافِله درکوي تا ته خبر دغه ګړئ
ګردونو ستا د عُمر ګينټه بله کمه کړه

www.dawateislami.net

# د دُنياوي امتحان اَهَمِّيَّت

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د قبر د امتحان نه د تيريدو نه پس **د قيامت امتحان** ته مخامخ کيدل دي. ډير زيات افسوس دې! چه مونږ د دې هيڅ تياري نه ده کړې، البته د نوکرئ د پاره په انټروِيو کښې د کاميابيدو د پاره او د سکول يا کالج په امتحان کښې د پاس کيدو د پاره خپل پوره زور لګوو. د دې متل: ”مَنْ جَدَّ وَجَدَ“ يعني **”چا چه کوشش اوکړو هغه اُوموندو“** مطابق که چا صرف د دُنياوي امتحان د پاره کوشش هُم اوکړو نو کيدې شي چه د دُنيا دا عارضي خوشحالئ ورنصيب شي خو **د قيامت د امتحان** به څه کيږي! يقيناً يوه ورځ مرګ او د قبر او آخرت د امتحان سره مخامخ کيدل دي. په هغه امتحان کښې نه دوکه چليدې شي او نه رشوت، دوباره موقع به هُم نه ورکوله کيږي، د دې هر څه نه د خبريدو باوجود د خلقو دُنياوي امتحان ته توجُّه شته خو د قيامت د امتحان نه بالکل غفلت دې. د دُنيا د امتحان د پاره خو نن صبا طَلَبه ټوله شپه تياري کوي او که خوب ورشي نو د خوب تښتولو والا ګولئ هُم خوري او تياري کوي، خو آيا د **قيامت د امتحان** د پاره هم په مونږ کښې کوم يو ټوله شپه په وِيښه عبادت کښې تيره کړې ده؟ د دُنيا په امتحان کښې د کاميابئ د پاره په پابندئ سره هره ورځ سکول او کالج ته ځي، آيا **د قيامت په**

www.dawateislami.net

**امتحان** کښې د کامیابۍ د پاره صرف په هفته واره اجتماع کښې مسلسل شرکت کوي؟ د دُنیا د امتحان د پاره ځینې طلبه ځان له کور ته ټیوټر [یعني د ټیوېشن استاذ] راغواړي او ځینې طلبه اکیډمي یا ټیوېشن سینټر ته ځي، آیا **د قیامت د امتحان** د تیارۍ د پاره ئې د سُنَّتو ډك مَدَني ماحول کښې د عاشقانِ رسول صُحبت اختیار کړې دې؟ د دُنیاوي ترقۍ د پاره اعلٰی تعلیم حاصلولو د پاره نورو ښارونو بلکه نورو ملکونو ته هُم سفر کوي، آیا د آخرت د ترقۍ او د قیامت د امتحان د تیارۍ د پاره ئې کله د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني قافله کښې سفر کړې دې؟ نو آیا صرف د دُنیا د امتحان د پاره کوشش کوونکو اسلامي ورونړو! **د قیامت د امتحان** تیاري هُم شروع کړۍ او په دې کښې چه څوك کامیاب شي هغه به د جنَّت د همیشه د نعمتونو حقدار جوړ شي او په دې کښې چه څوك ناکام شي هغه به د جهنَّم په اور کښې اچولې شي. **د قیامت د امتحان** د تیارۍ د آسانۍ د پاره د **دعوتِ اسلامي** هفته واره سُنَّتو نه ډکه اجتماع کښې لازمي شرکت کوۍ. په خپله علاقه کښې د شپې په **مَدرَسةُ الْمَدینه** (برائے بالِغان) کښې فِیْ سَبِیْلِ الله د قُرآنِ پاك سبق لوَلۍ او هره میاشت د عاشقانِ رسول سره کم از کم د درې ورځو په **مَدَني قافِله** کښې د سُنَّتو ډك سفر کوۍ او هره ورځ د فِکرِ مدینه په ذریعه د **مَدَني**

www.dawateislami.net

**اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مياشتې په وړومبي تاريخ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمّه دار ته جمع کوئ. **د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې سفر او د مَدَني انعاماتو رِساله ډکول او هره مياشت جمع کول به** اِنْ شَآءَاللّٰه تعَالٰی ستاسو د پاره د قيامت په امتحان کښې د کاميابئ ذريعه جوړه شي.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو　　پاؤگے برکتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو　　دور ہوں آفتیں قافلے میں چلو

اوګټئ ډير رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ
اُوګټئ ډير برکتونه قافِلو کښې لاړ شئ

حل به مو شي مشکِلونه قافلو کښې لاړ شئ
شي به ختم مصِيبتونه قافلو کښې لاړ شئ

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "چا چه زما د سُنَّتو سره محَبَّت اوکړو هغه زما سره محَبَّت اوکړو او چا چه زما سره محَبَّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا
جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ګاونډي ۱۵ مَدَني ګلونه

۸ فرامِينِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ﴿۱﴾ **اللّٰه** تعالٰی د نيک مسلمان په وجه د هغه د ګاونډ د سلو کورونو نه بَلا [يعني مصيبت] لرې کوي. بيا خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې آيتِ مبارکه تِلاوت اوکړو:

وَ لَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ (پ۳، البقرة:۲۵۱) مفهوم

ترجمهٔ کنزُالاِيمان: ”او که الله په خلقو کښې بعضې د بعضو نه دفع [يعني لرې] نه کړي نو ضرور به زمکه تباه شي“ (مَجْمَعُ الزَّوائِد ج۸ ص۲۹۹ حديث۱۳۵۳۳) ﴿۲﴾ د **اللّٰه** تعالٰی په نزد بهترين ګاونډي هٰغه دې څوک چه د خپل ګاونډي خير خواه وي (سُنَنُ التِّرمِذِی، ج۳ ص۳۷۹ حديث۱۹۵۱) ﴿۳﴾ هغه به جَنَّت ته نه ځي د چا ګاونډي چه د هغه د آفتونو نه په امن کښې نه دې (صحيح مُسلِم ص۴۳ حديث۴۶) ﴿۴﴾ هغه مُؤمِن نه دې څوک چه ځپله په مَړه ګيډه اوخوري او د هغه ګاونډي د هغه په څنګ کښې اوګې پاتې شي (شُعَبُ الْاِيْمان ج۳ ص۲۲۵ حديث۳۳۸۹) ﴿۵﴾ يعني کامِل مُؤمِن نه دې چا چه خپل ګاونډي ته تکليف ورکړو هغه ما ته تکليف راکړو او چا چه ما

ته تڪليف راکړو هغه **اللّٰه** تعالیٰ ته تڪليف ورکړو (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج٣ ص٢٤١ حديث١٣) ﴿٦﴾ جِبرئيل عَلَيْهِ السَّلَام ما ته د ګاونډي په باره کښې مسلسل وصِيَّت کولو، تر دې چه زما ګُمان شو چه ګاونډي به وارِث جوړ کړي (صَحِيحُ البُخاری ج٤ ص١٠٤ حديث ٦٠١٤) ﴿٧﴾ خوك چه په **اللّٰه تعالیٰ** او په ورځ د آخرت ايمان لري، هغه ته پڪار دي چه د خپل ګاونډي سره حُسنِ سُلوك [يعني ښه سُلوك] کوي (صحيح مُسلِم ص٤٤ حديث٤٨) ﴿٨﴾ څلويښت کورونه ګاونډيان دي. (مراسيل اَبی داؤد ص١٦) **حضرتِ** سَيِّدُنا اِمام زُهري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د دې نه څلور واړه طرفو ته څلويښت څلويښت کورونه مُراد دي. (ايضاً) په "نُزهَةُ القارِی" کښې دي: ګاونډي خوك دي په دې هر سړې د خپل عُرف [يعني رواج] او معاملاتو مطابق پوهيږي (نُزهَةُ القاری ج٥ ص٥٦٨) ۞ حُجَّةُ الاِسلام اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د ګاونډي په حقونو کښې دا هُم دي چه هغه ته په سلام کولو کښې د هغه نه ورمخکښې شي، د هغه سره اوګدې خبرې نه کوي، د هغه د حالاتو په باره کښې زيات تپوسونه نه کوي، که هغه بيمار شي نو د هغه پوښتنه اوکړي، د مصيبت په وخت کښې د هغه په غم کښې شريك شي او د هغه سره ملګرتيا اوکړي، د خوشحالئ په موقع هغه ته مبارکي ورکړي او د هغه سره په خوشحالئ کښې شريك شي، د هغه خطاګانې معاف کړي، د خپلې

www.dawateislami.net

کوتې د سر نه دِ د هغه کور ته سر نه ښکاره کوي [يعني نه ګوري] ، د هغه د کور لاره دِ نه تنګوي، هغه چه خپل کور ته څه وړي د هغې د کتلو کوشش دِ نه کوي، د هغه عيبونه دِ پټوي، که هغه ته څه حادِثه يا تکليف پيښ شي نو فوري طور دِ د هغه مدد کوي، چه کله هغه په کور کښې موجود نه وي نو د هغه د کور د حفاظت په باره کښې دِ غفلت نه کوي، د هغه خِلاف دِ هيڅ خبره نه اوري او د هغه د اهلِ خانه [يعني د زنانؤ] نه دِ خپل نظر ښکته ساتي، د هغه بچو سره دِ نرمې خبرې کوي، هغه ته چه د کوم دِيني يا دُنياوي اُمورو [يعني کارونو] عِلم نه وي د هغې په باره کښې دِ هغه ته ښودنه اوکړي (اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج۲ ص۲۶۷ مُلَخَّصاً) ۞ حضرتِ سَيِّدُنا عبدُاللّٰه بِن مسعُود رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته يو کس عرض اوکړو: زما ګاونډي ما ته تکليف راکوي، ما ته کنزلې کوي او په ما سختي کوي. اوئې فرمائيل: که هغه ستا په باره کښې د اللّٰه تعالٰی نافرناني کړې وي، نو ته د هغه په باره کښې د اللّٰه تعالٰی اِطاعت [يعني فرمانبرداري] اوکړه (ايضاً ص۲۶۶) ۞ د يو بزرګ په کور کښې ډير منږکان وو، چا ورته عرض اوکړو چه: حضرت! که تاسو پيشو اوساتئ نو ښه به وي. اوئې فرمائيل: زه دا يَره لرم چه منږك به د پيشو د آواز په اوريدو د ګاونډي کور ته لاړ شي نو

www.dawateislami.net

دغسې به زه د هغه د پاره هغه خبره خوښوونکې جوړ شم کومه چه زه د ځان د پاره نه خوښووم (ايضاًص۲۶۷)

۞ منقول دي: فقير ګاونډي به د قيامت په ورځ د مالدار ګاونډي لَمَن نيسي او وائي به: اے زما ربه! د ده نه تپوس اوکړه، ده زه د خپل حُسنِ سُلوك نه ولې مَحرومه کړم او زما د پاره ئې خپله دروازه ولې بنده کړه؟ (ايضاً)

۞ يو کس عرض اوکړو، يَارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د فلانئ ښځې متعلق تذکِره کيږي چه نمونځ روژه او صَدَقه په کثرت سره کوي خو دا خبره هُم ده چه هغه خپلو ګاونډيانو ته په ژبه تکليف رسوي، اوئې فرمائيل: هغه په جهنَّم کښې ده. هغوئې عرض اوکړو: د فلانئ ښځې په باره کښې زياته تذکِره کيږي چه د هغې په (نفلي) روژه او صَدَقه او نمانځه کښې کمي ده، هغه د پنير [يعني قُرَتو] ټکړې صَدَقه کوي او په خپله ژبه ګاونډيانو ته تکليف نه ورکوي، اوئې فرمائيل: هغه په جَنَّت کښې ده. (مُسْنَدِ اِمام اَحمَد، ج۳ص۴۴۱ حديث۹۶۸۱)

۞ **فرمانِ مصطفٰی** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ګاونډيان درې قِسمه دي: د بعضو درې حقونه دي، د بعضو دوه او د بعضو يو حق دې، کوم ګاونډې

www.dawateislami.net

چه مسلمان او خپلوان وي د هغه درې حقونه دي: حقِ جَوار [يعني د ګاونډ حق] او حقِ اسلام، او حقِ قرابَت [يعني د خپلوئ حق]، د ګاونډي مسلمان دوه حقونه دي: حقِ جَوار [يعني د ګاونډ حق] او حَقِ اِسلام، او د ګاونډي کافِر صِرف يو حقِ جَوار [يعني د ګاونډ حق] دي. (شُعَبُ الْاِيْمان ج۷ ص۸۳ حديث۹۵۶۰)

۞ د **حضرتِ سَيِّدُنا بايَزِيد بِسطامي** رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيْه يهودي ګاونډي په سفر لاړو، د هغه بال بچي کور کښې پاتې شو، د شپې به د يهودي ماشوم ژړل. هغوئي رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيْه تپوس اوکړو چه ماشوم ولې ژاړي؟ يهودنړې اووئيل: په کور کښې ډيوه نشته دې، ماشوم په تِياره کښې يَريږي. د هغه ورځې نه به هغوئي رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيْه هره ورځ ډِيوه د تيلو نه ډکه کړه او بله به ئې کړه او د يهودي کور ته به ئې اوليږله. چه کله يهودي راغې نو د هغه ښځې ورته دا واقعه بيان کړه. يهودي اووئيل: کوم کور ته چه د بايَزِيد ډيوه راغله هلته دِ تِياره ولې وي! [دا ئې اووئيل] او هغوئي ټول مسلمانان شو.

(مِراٰة ج٦ ص٥٧٣.تذكرةُ الْاَوْلِياء الجزء الاوّل ص١٤٢)

په زرګاؤ سنّتونه زده کولو د پاره د **مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه** دوه کتابونه (١) د ٣١٢ صفحو کتاب ”**بهارِشريعت**“ حصّه ١٦ او (٢) د ١٢٠ صفحو

www.dawateislami.net

کتاب ”**سُنَّتیں اور آداب**“ هديه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِيَّت يوه غوره ذريعه د **دعوتِ اسلامي** په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو نه ډك سفر هم دي.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

زده کړئ ښکلي سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ
اوګټئ ډير رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ

حل به مو شي مشكِلونه قافلو کښې لاړ شئ
شي به ختم مصِيبتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# نن ډېره ګرمي ده!

فرمانِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چه کله سخته ګرمي وي نو بنده وائي:

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ نن ډېره ګرمي ده! اے اللّٰه (عَزَّوَجَلَّ) ما ته د جَهنَّم د ګرمۍ نه پناه راکړې، اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دوزخ ته فرمائي: "زما بنده زما نه ستا د ګرمۍ نه پناه غواړي او زه تا ګواه جوړووم چه ما هغه ته ستا د ګرمۍ نه پناه ورکړه." او چه کله سخته یخني وي نو بنده وائي: لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ نن خومره سخته یخني ده! اے اللّٰه (عَزَّوَجَلَّ) ما د جَهنَّم د زَمهَرِير نه وساتې. اللّٰه تعالیٰ جَهنَّم ته وائي: زما بنده زما نه ستا د زَمْهَرِيرنه پناه غواړي او ما ستا د زَمْهَرِير نه هغه ته پناه ورکړه. صحابهٔ کرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان عرض وکړو: د جَهنَّم زَمْهَرِير څه دې؟ وئې فرمائيل: هغه يوه کنده ده چه هغې ته به کافِر غورزولې کيږي نو د سختې يخنۍ نه به د هغه بدن ټکړې ټکړې شي. (اَلْبُدُوْرُ السَّافِرَۃِ لِلسُّیُوْطی ص۴۱۸، حدیث ۱۳۹۵)





فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net